در اپریل سال روان پوهاند داکتر مجاور احمد زیار ، شخصیت والا مقام علمی و فرهنگی کشور 75 ساله شدند . گردانندہ گان روشنک سالروز تولد این دانشمند کم بدیل را تبریک و تهنیت میگویند و برای ایشان عمر طولانی و صحت و سعادت آرزو میکنند .



پوهاند ډاکټر مجاور احمد

# يوځای ليکل او جلا ليکل

د ژبپوهنيزې قاعدې له مخې ټول ژبني توکي يا واحدونه سره بېل بېل ليکل، په بله وينا، د اړوند ليک سېستم له شونتيا سره سم، تر وسې وسې جوليز يووالی(لفظي وحدت) له مانيز يووالی(معنايي وحدت) سره غاړه غړۍ کول په کار دي. که هغه ازاد وييکي(پارتيکلونه particles) وي، لکه: سربلونه+ وستربلونه(prepositions+pospositions) ):

(په، پر، تر، د، له، سره، کې، پورې، ته...) يا اړيکوييکي يا ارتباطي حروف(conjunctions) (چې، که، او، هم...) او يا ساده نومونه، صفتونه، شمېرنومونه او ضميرونه وي، لکه:

(کور، غرځلوی، سپين؛ يو، دوه؛ زه، ته، دی، دا، هغه...)، يا فعلونه، لکه:

(تلل،خوړل، ځي، خوري...) او يا ترکيبي او اشتقاقي وييونه(لغات) وي، لکه:

کټمل،پوهنمل،پوهنتون، مرستون، خپلمنځي، خپلچاری، خپلخوښی، ځانساتی، تلپاتې، پښتونولي، پښتونخوا، ولسمشر یا هېوادمشر، تاو تريخوالی، بنسټپال، بېلتونپال، منځلاری، ترهګر، کتابتون، ټولپوښتنه، ټولوژنه، بلوژنه، ځانوژنه، ځانمرګی، سرټکی(سرټکي)، منځټکی، پایټکی، لیکړ، لیکلار،لیکلارښود، لیکدود، پایلیک، لمنلیک، نوملیک، بریلیک، برخلیک، برخوال، پازوال(موظف، مسوول)، پانګوال، پانګواکي(سرمایه سالاري، اېمپریا لېزم)، ځمکوال، ځمکواکي(زمین سالاري، فیوډالېزم)، ځمکسمون (اصلاح ارضي)، سمونپال (اصلاح طلب)، ژبپوهنه، ټولنپوهنه، لرغونپوهنه، ويپپوهنه، ويیپانګه، ويیزېرمه، سونتوکي، لرغونتوکي، مخبېلګه(ماډل، مودل)، مخورمند(پیشداوري)، مخنیوی ، مخکتنه، کتنپلاوی، لاسلیک، لاسلیکول-لاسلیکېدل، لوستلیکی(درسي کتاب)،مخامخول- مخامخېدل، وړاندیز، وړاندوينه، وړاندېينه، ترینکوټ، لوبغالی، لوبغاړی، لوبډله، پایلوبه، پایبڼه... .

په دې لړکې له نومونو او کړونو) سره د وړو توکیو یوځای لیکل سم نه دي، لکه:

لخوا، لما، ندی، پدې توګه، لدې سره، پکور(کې)، پخپل(هېواد کې)، غزنیته(ځم)...، نخورم، نخوري، نکوم، نکوي، نلرم، نلري، نشم، نشي، شويدی، مخوره، مکوه... .

پخوا(قبل،قبلا)، پخپله(شخصا) ځکه سم راځي چې خپلواک ويیونه(قیدونه) دي، ځانته - ځان ته او مخکې- (په) مخ کې سره هم په ورته دلیل توپیرېږي.

«بلخوا» له «یوخوا» سره د اړیکوییکو په توګه، لکه (لپاره، پکې، نشته...)) همداسې یو ځای دود موندلی او کره ګڼل شوي دي.

یو لړ ويیکي سره په خپلو منځو کې یا له خپلواکو توکیو سره ځکه یوځای لیکل کېږي چې د یو یوازېني چار یا مانا لپاره سره په غونډله(جمله) کې تل پرله پسې راځي، لکه: پکې(درآن)، همدا، همدغه، همدی، همده، همدې، هماغه یا همغه، همهاغه یا همهغه، همداسې، هماغسې یا همغسې، همدارنګه، منځته راوړل، منځته راتګ، رامخته کول، لاسته راوړل، لاسته راوړنه، پایته رسول، لپاره ، نشته، یا په(ستړي مشي، خدای مکړه یا خدای دې نکړي) غونډې ګړنو او څرګند نو کې ويیکي(مه، نه) له کړونو سره یوځای لیکل هم همداسې درواخله!

که نه، د ټولیز دوی یا عمومي قاعدې له مخې د غه دوه توکه له کړ سره نښلول سم نه دي اوباید جلا ولیکل شي، لکه: نه خورم، نه خورو، نه کوم، نه کوو، نه لرم، نه لرم، نه شم کولای، یا کولای نه شم، ونه شم کولای، را به نه شم، وابه نه وړم... . دلته کېدای شي، د لیک اسانتیا لپاره یوه نیمه بېدويي یا استثناء ومنو، لکه پاس په یادشويو، او یا په ( وانخلم ، رانغلم ، رانغی، خدای مکړه) غونډې دودو بېلګو کې.

له اوسنیو کمپیوټري اسانتیاوو او بیا د«یوې- کره پښتولیکلارې» دننه د ټولمنلې کره پښتوابېځې پر بنسټ له رامنځته شویو کیبورډو سره په کارده، دهرې کرښې یا غونډلې دننه په یو یو وت (space) سره د بېلابېلو لويو او کوشنیو توکو تر منځ لیکنی بېلوالی او خپلواکي ښه ترا سمباله کړو.

دلته يوازې د نښلېدايا نه نښلېدا خبره نه، بلکې د بېلابېلو لويو او وړو توکو ترمنځ هماغه يو برابر وټ(space) په پام کې نيول په کاردي، د ساري په ډول(د،او، خو، نو، نور، پر...)که سره نښلي هم نه،خو له هماغه لګولي عربي سېستم سره سم يې تر منځ ټاکلی وټ يا واټن(space) ورکول اړين دي، که نه، ژبپوهنيز اَر نه پرځای کېږي او ګډون(التباس) رامنځته کوي. په دې توګه مخني توکي سره داسې و نه کښل شي، لکه:

(د،او،خو،نو،نور،پر...). هرګوره تر ليکنښو وروسته(نه تر مخه) هم ټاکلی وټ غوره اېسي، سره له دې چې ژبپوهنيزه اړتيا ورته نشته.

www.roshanak.nl